مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷۳** (از ۵ الی ۱۲ عقرب ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د افغان سولې په اړه د سیمه‌ییزې همکارۍ اړتیا**

د افغان سولې پر وړاندې درې‌ګونې خنډونه ........ ۴

د سیمې د هېوادونو همکاري ولې مهمه ده؟ ........ ۵

د مسکو ناسته ........ ٦

**نگاهی به وضعیت تجارت و ترانزیت در زمان حکومت وحدت ملی**

تجارت و ترانزیت ........ ۸

مشکلات موجود در بخش ترانزیت و تجارت ........ ۹

امیدهای موجود برای رونق تجارت و ترانزیت افغانستان ........ ۱۰

## مقدمه

د افغان سولې په تړاو د امریکا لهخوا د هڅو له ګړندي کېدو سره، په دې قضیه کې د سیمې او نړۍ د ځینو هېوادونو او په ځانګړې توګه د روسیې د رول په تړاو هم بحثونه ګړندي شوي دي. همدا لامل دی، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې په روسیه کې د افغان سولې په تړاو یوه غونډه پلان شوې او د امریکا او افغان حکومت د مخالفت له کبله دوه ځله ځنډول شوې هم ده. امریکا او روسیه د نړۍ هغه دوه زبرځواکونه دي چې د تېر په شان په روانه لسیزه کې یو ځل بیا، د نړۍ په کچه د ځینو قضیو پر سر یو د بل پر وړاندې ولاړ دي او په وروستیو کې د دواړو لورو دغه تقابل افغانستان ته هم را غځېدلی دی، نو له همدې امله د دغو هېوادونو ریښتنې هڅې کولای شي د روانې جګړې په پای ته رسېدو کې خورا اغېزناکې تمامې شي.

د خبرو له لارې د افغان جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې د سیمهییزو او ګاونډیو هېوادونو رول او په ټولیز ډول یې د افغان سولې پر پروسه اغېزې هغه موارد دي، چې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې بحث پرې شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت پر مهال د سوداګرۍ او ټرانزیټ د برخو وضعیت ته ځانګړې کړې ده. تازه د نړیوال بانک په یوه راپور کې په افغانستان کې د سوداګرۍ او کاروبار لپاره د زمینې برابرولو په برخه کې د اصلاحاتو او اسانتیاوو رامنځته کولو په اړه ستاینه شوې ده. سوداګري او ټرانزیټ چې د یوه هېواد په اقتصادي وضعیت کې خورا ارزښت لري، په افغانستان کې د روانې جګړې له امله ډېر کار نه دی ورته شوی؛ خو د ملي یووالي حکومت په راتګ سره یادې برخه ته تر یوه بریده پاملرنه وشوه او د افغانستان ټرانزیټي اړیکې د پخوا په پرتله څو چنده پراخې شوې.

# د افغان سولې په اړه د سیمه‌ییزې همکارۍ اړتیا



که څه هم د افغان سولې په برخه کې د امریکا وروستي ګامونه تر یوه بریده هیله بښونکي دي؛ خو په ورته وخت کې بیا په دې پروسه کې د سیمې د هېوادونو رول هم له پامه نه شي غورځول کېدای. د تېرو ۱۷ کلونو جګړې ته په کتلو سره داسې ښکاري، چې په دغه هېواد کې د سولې او ثبات لپاره په سیمه کې د ځواکمنو هېوادونو همکاري او ښېکېلتیا هم یو اړین ګام دی.

روسیه د سیمې او نړۍ په کچه هغه زبرځواک ګڼل کېږي، چې په وروستیو کلونو کې یې د افغانستان اړوند قضیو کې یو ځل بیا لېوالتیا زیاته شوې ده. دغه هېواد له طالبانو سره هم اړیکې جوړې کړې دي او ظاهراً ښیي، چې د افغان سولې خبرو د پیل په موخه د طالبانو د چمتو کولو هڅه کوي.

دا چې په افغانستان کې د سولې په تړاو، کومو برخو ته د ډېرې پاملرنې اړتیا ده، په افغان سوله کې د سیمې د هېوادونو رول ولې مهم دی او په دې اړه د مسکو ناسته څومره مهمه او اغېزناکه بریښي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د افغان سولې پر وړاندې درې ګوني خنډونه

افغان حکومت له تېرو څو کلونو راهیسې له طالبانو سره د سولې د خبرو د پیل په موخه هڅې کوي. په دې برخه کې په مختلفو ډولونو د سیمې او نړۍ په کچه پر طالبانو د فشار راوړلو هڅې هم وشوې، ترڅو طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته په یو ډول اړ کړل شي؛ خو تر دې دمه یې د پام وړ لاسته‌راوړنه نه ده لرلې.

دا چې د سولې په باب تېر ه کېدونکې هڅې مثبې پایلې ولري، اړتیا ده چې په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د لاندې دریو خنډونو له منځه وړلو لپاره هلې ځلې وشي:

**لومړی**؛ په افغانستان کې د سولې د ټینګښت پر وړاندې پر ګڼو نورو خنډونو سربېره د هېواد دننه، له سولې سره د یو شمېر اشخاصو او ډلو، پټ او ان ډېر کله ښکاره مخالفت یو ستر خنډ بلل کېږي، چې تر دې دمه یې د جګړې په دوام کې رول لرلی دی.

دا ډول کسان او کړی خپلې ګټې د جګړې په دوام کې خوندي ګڼي او بالعکس د سولې په راتګ کې خپل زیان ګوري، له همدې امله تل په یوه او بل ډول د جګړې اور ته پکه وهي؛ خو سولې ته د رسېدو په موخه اړتیا ده چې دغه شان کسان یا د سولې په پروسه کې د همکارۍ په موخه وهڅول شي او یا هم د هر ډول خنډ جوړولو پر مهال د دوی مخه ونیول شي. په دې توګه لومړی ګام په هېواد کې دننه د سولې د مخالفینو پر وړاندې درېدل دي.

**دویم**؛ د افغانستان ګاونډي هېوادونه، په ځانګړې توګه پاکستان او ایران هغه دوه هېوادونه دي، چې تل په افغانستان کې پر لاسوهنو تورن دي. افغان حکومت تل پر پاکستان له دې امله نیوکې کوي، چې د افغان دولت مخالفو وسله‌والو ډلو ته یې په خپله خاوره کې ځای ورکړی دی. دغه‌راز په ایران هم وخت ناوخت د افغان دولت له مخالفو وسله‌والو سره د همکارۍ تورونه لګېدلي دي.

د افغانستان د قضیې په تړاو د ګاونډیو هېوادونو اندېښنې او د سولې په برخه کې یې د رښتینې همکارۍ نشتون، د سیمې په کچه د دغې پروسې پر وړاندې مهم خنډ بلل کېږي. په ټولیز ډول د افغانستان ټول ګاونډي هېوادونه او په تېره بیا پاکستان، ایران او چین د افغانستان هغه درې مهم ګاونډي هېوادونه دي چې کولی شي له دغه هېواد سره سولې ته د رسېدو په برخه کې مرسته وکړي. په دې توګه اړتیا ده، چې د ګاونډیو هېوادونو د مرستې راجلبولو او د هغوی د اندېښنو ځوابولو لپاره هلې ځلې وشي؛ ځکه د دغو هېوادونو رول له پامه نه شي غورځول کېدای.

**دریېیم**؛ په وروستیو څو کلونو کې په ځانګړې توګه له ۲۰۱۴م کال راوروسته د اوکراین د بحران په څېر او ورپسې په سوریه کې د امریکا او روسیې مخالفت هغه څه ګڼل کېږي، چې د روسیې او لوېدیځ ترمنځ یې یو ځل بیا سړه جګړه راپیل کړه. په وروستیو کې داسې ښکاري چې د واشنګټن او مسکو ترمنځ د نوې سړې جګړې اغېزې تر افغانستانه هم راغځېدلې دي. له همدې کبله داسې ښکاري چې افغانستان د نړیوالو زبرځواکونو د زور ازمویلو پر ډګر بدل شوی او ترڅو چې د افغانستان په قضیه کې د سیمې او نړۍ په کچه د ځواکمنو هېوادونو ترمنځ د نیابتي جګړو پر ځای همکارۍ ته لاره هواره نه شي، د سولې پروسه به هم پام‌وړ پایله ونه لري.

## د سیمې د هېوادونو همکاري ولې مهمه ده؟

په افغانستان کې د امریکا له حضور سره اوسني ځینې مخالف هېوادونه په ۲۰۰۱م کال پر افغانستان د امریکا د برید پلوي وو او د طالبانو د رژیم د ړنګېدو په موخه یې د امریکا د برید مخالفت ونه کړ. په دې ډله کې روسیه هغه هېواد و، چې له ۲۰۰۱ کال وروسته یې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له پرېکړې سره سم، په افغانستان کې د امریکا او ناټو له اقداماتو ملاتړ او ورسره همکاري کوله؛ خو له نږدې یوې‌نیمې لسیزې وروسته یې، په ځانګړې توګه کله چې په افغانستان کې د داعش ډلې سر راپورته کړ، دغه هېواد په لومړي ځل افغانستان ته له خپلې خاورې تېره شوې د ناټو اکمالاتي لاره د ۲۰۱۵ کال په مې میاشت کې [بنده کړه](#) او په دې توګه د دواړو هېوادونو مخالفت افغانستان ته هم راولېږدېده.

له دغه مخالفت راوروسته ډېر ځله داسې راپورونه ورکړل شوي، چې روسیه له طالبانو سره نظامي مرستې کوي؛ خو روسیې تل د نظامي مرستو تورونه رد کړي او له طالبانو سره یې خپلې اړیکې په افغانستان کې د داعش ډلې له پراختیا وېره، په افغانستان کې د روسي دیپلوماتو خوندیتوب او له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د طالبانو په چمتو کولو کې د مرستندوی رول لوبولو سره، توجیه کړې دي.

دا چې اوس‌مهال امریکا له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل هڅې پیل کړې او غواړي روانه جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي، په اوسني وخت کې د روسیې ښکېلتیا که له یوې خوا له پامه نه شي غورځول کېدای، نو له بلې خوا به مثبتې اغېزې هم ولري؛ ځکه له یوې خوا روسیه د اوسنۍ نړۍ د زبرځواکونو په کتار کې ده او له بلې خوا یې له طالبانو سره اوسنۍ اړیکې او تر یوه بریده جوړ شوی باور د دې لامل کېږي، چې د سولې په خبرو کې د پام وړ همکاري وکړي.

دا چې څه ډول کېدای شي د سيمې هېوادونه په ريښتينې توګه په افغانستان کې د سولې د ټينګښت لپاره همکاري وکړي، اړتيا ده چې امريکا په افغانستان کې د خپل حضور په اړه روښانه تصوير وړاندې کړي، ترڅو کومه وېره چې دغه هېوادونه يې په افغانستان کې د امريکا د اوسني حضور په تړاو لري، له منځه يوړل شي.

## د مسکو ناسته

نږدې دوه مياشتې وړاندې ټاکل شوې وه، چې مسکو د سپټمبر په ۴مه د افغانستان د سولې په اړه د يوې غونډې کوربه‌توب وکړي. که څه هم د رويټرز خبري آژانس له قوله طالبانو په دغه غونډه کې د خپلو استازو د ګډون خبر ورکړی و؛ خو امريکا او افغان دولت له دې کبله د دې غونډې مخالفت وکړ چې کوربه‌توب يې د روسيې په غاړه و. هغه مهال بيا دغه غونډه د افغان ولسمشر او روسيې د بهرنيو چارو وزير ترمنځ له ټليفوني خبرو وروسته وځنډېده او ټاکل شوې په راتلونکو ورځو کې جوړه شي.

په مسکو کې د افغان سولې په اړه غونډه په دغه پروسه کې د روسيې لېوالتيا او د همکارۍ شونتيا ښيي. په ټوليز ډول، افغان حکومت هم دې پايلې ته رسېدلی، چې په دې قضيه کې د روسيې له رول څخه سترګې نه شي پټېدای او له همدې کبله داسې ښکاري چې افغان حکومت به هم د سولې په برخه کې د روسيې رول ته پاملرنه وکړي او ښايي په ياده غونډه کې به ګډون وکړي.

له بلې خوا په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو را روانې جګړې د دې جګړې ټول لوري ستړي کړي دي. څکه په وروستيو کې د سولې بهير داسې يوه حالت ته رسېدلی چې ښکاري پر افغان حکومت سربېره امريکا هم په ريښتينې توګه د سولې لپاره هڅې کوي او دا چې په دغه بهير کې د روسيې ګټې هم نغښتې دي، هڅه يې دا ده چې روانه جګړه نوره پای ته ورسېږي.

په ټوله کې ويلی شو، چې د افغان سولې په اړه وروستۍ هڅې هيله‌بښونکې دي. څکه په دې لړ کې د امريکا له لوري زلمي خليلزاد د افغانستان په ګډون پنځو هېوادونو ته سفر وکړ، نوموړي د افغانستان او پاکستان دننه د افغان سولې لپاره د همکارۍ راجلبولو هڅې وکړې، په پاکستان کې ملا برادر او دوه نور طالب چارواکي له بنده خوشې شول، دغه‌راز د ګوانتنامو له زندانه څو کاله وړاندې خوشې شوي پنځه طالب چارواکي هم په قطر کې د طالبانو  له سياسي دفتر سره يو ځای شول. له همدې کبله به په اوسني وخت کې يو مهم ګام دا وي، چې د افغان سولې بهير د بريا لپاره د ګاونډيو او سيمې هېوادونو رول نه يوازې دا چې له پامه ونه غورځول شي، بلکې د هغوی له ښکېلتيا څخه مثبته ګټه واخيستل شي. پای

# نگاهی به وضعیت تجارت و ترانزیت در زمان حکومت وحدت ملی



بانک جهانی در گزارش تازۀ خویش، اصلاحات اقتصادی و بهبود محیط تجارت و آغاز کاروبار در افغانستان را ستایش کرده است. بربنیاد این گزارش که سالانه توسط بانک جهانی به منظور مقایسه نمودن ۱۰ شاخص تجارتی در ۱۹۰ کشور تهیه می‌گردد، افغانستان از جایگاه ۱۸۳ به جایگا ۱٦۷ صعود کرده است. این گزارش نگاشته است که افغانستان با تطبیق اصلاحات در پنج شاخص و با اتخاذ یک سلسله اقدامات مناسب تجارتی، در صدر آنعده کشورهای برتر قرار گرفته است که بهبود قابل ملاحظه را در راستای تسهیلات لازم غرض انجام تجارت فراهم نموده است.

هنگام روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، وضعیت اقتصادی کشور به دلیل خروج بخش بزرگ نیروهای خارجی از کشور و بی‌ثباتی فراگیر سیاسی، در وضعیت خرابی قرار داشت و در طول چهار سال عمر این حکومت نیز در برخی عرصه‌ها روبه خرابی بوده است که در این مورد کاهش ارزش پول افغانی، افزایش بی‌کاری، عدم موفقیت در ریشه‌کن کردن فساد اداری وغیره قابل یادآوری می‌باشد. اما در کنار این، در برخی عرصه‌ها به خصوص اصلاحات در عرصۀ بهبود محیط برای آغاز کاروبار، پیشرفت‌هایی نیز وجود داشته است.

اینکه وضعیت تجارت و ترانزیت در زمان حکومت وحدت ملی چگونه بوده، چه مشکلات و چالش‌ها در این عرصه وجود داشته و در کنار آن چه امیدهایی در رابطه به بهبود وضعیت اقتصادی و بهبود محیط تجارت در کشور به خصوص با توجه به گزارش اخیر بانک جهانی وجود دارد، پرسش‌هایی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## تجارت و ترانزیت

تجارت و ترانزیت دو عرصهٔ مهم و وابسته به همدیگر در اقتصاد کشورها می‌باشد؛ اما برخورداری از امنیت و مزیت جغرافیایی یکی از مهمترین عواملی است که می‌تواند به خوبی زمینه‌ساز توسعه این دو عرصه گردد. ترانزیت که از سودآورترین منابع عواید در قرن جاری برای کشورهای جهان محسوب می‌شود. در حال حاضر در آمد بیشتر از این بخش، رقابت کشورها را در ایجاد تسهیلات لازم برای بالان بردن سهم خود در این عرصه افزایش داده است.

افغانستان یکی از کشورهای محاط به خشکه است و این حالت به عنوان یکی از مشکلات و چالش‌های این کشور در عرصهٔ ترانزیت و تجارت محسوب می‌شود؛ اما با در نظر داشت موقعیت جغرافیایی و داشتن اهمیت زیاد در بخش ترانزیت و انتقال کالاها، یکی از کشورهای بسیار مهم منطقه نیز به حساب می‌آید که به گفتهٔ کارشناسان اقتصادی در انکشاف منطقه نقش چشم‌گیری داشته می‌تواند.

با آنکه افغانستان ارزش ترانزیتی بیشتر دارد و یکی از نمونه‌های خوب آن نیز راه ابریشم است که از قدامت تاریخی زیادی برخوردار است؛ اما در طول چهار دههٔ گذشته ناامنی، حکومتداری ضعیف، موجودیت فساد گسترده و نبود نهادهای ترانزیتی از جمله موارد عمده‌ای بوده که از مؤثریت آن کاسته است.

بعد از سال ۲۰۰۱م و روی کار آمدن نظام جدید، هرچند میلیاردها دالر به افغانستان سرازیر شد؛ ولی مشکلات عرصهٔ ترانزیت و تجارت مانند سایر عرصه‌ها کاهش نیافت و به همین دلیل تا سال ۱۳۹۴هـ ش به صورت گسترده افغانستان تنها از طریق مرزهای جنوبی خود با جهان وصل می‌شد و اموال خود را از طریق بندر کراچی پاکستان وارد و صادر می‌کرد. ولی در زمان حکومت وحدت ملی با انجام برخی تلاش‌ها در این عرصه، این وضعیت روز به روز دگرگون شد.

در حال حاضر برای انتقال کالاها، افغانستان از انحصار یگانه کشور همسایۀ خویش بیرون شده است و راه‌های دیگری نیز برای صادرات و واردات اموال تجارتی خود پیدا کرده است. در این زمینه افتتاح بندر چابهار، افتتاح چندین دهلیز هوایی به کشورهای منطقه و اروپا، بهره برداری از خطوط آهن مشترک افغانستان و ترکمنستان از جمله گذرهای جدید برای تجارت و ترانزیت افغانستان و منطقه می‌باشد.

## مشکلات موجود در بخش ترانزیت و تجارت

هرچند با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی در طول چهار سال گذشته، تلاش‌های چشم‌گیری در رابطه به گسترش روابط تجاری افغانستان با دیگر کشورها و دریافت مارکیت‌ها برای صادرات افغانستان، صورت گرفته است و حکومت افغانستان در این راستا دستاوردهایی نیز داشته است؛ اما هنوز هم برخی چالش‌ها و مشکلاتی در برابر این عرصۀ مهم اقتصادی کشور وجود دارد که می‌توان بطور خلاصه در چند نکتۀ ذیل به آن اشاره کرد:

**ناامنی‌ها**؛ ادامۀ جنگ و نبود امنیت یکی از بزرگترین چالش‌های موجود در برابر تجارت و ترانزیت افغانستان می‌باشد. تاجران و سرمایه‌گذاران از یک‌سو به دلیل ناامنی‌ها از سرمایه‌گذاری در کشور خودداری می‌کنند و سر و مال خود را مصئون نمی‌بینند و از سویی دیگر ناامنی‌ها باعث عدم مصئونیت انتقال اموال و کالای‌های ترانزیتی در مسیر شاهراه‌های بزرگ کشور شده است.

**فساد اداری**؛ ناکامی حکومت افغانستان در ریشه‌کن کردن فساد اداری، یکی دیگر از چالش‌هایی است که مانند دیگر عرصه ها در برابر تجارت و ترانزیت به عنوان یک چالش مهم وجود دارد. فساد در اداره‌های این سکتور باعث شده که تجار در صادرات و واردات اموال با انواع مشکلات مختلف مواجه باشند.

**مشکلات با همسایه‌ها**؛ تجارت ترانزیتی افغانستان با کشورهای همسایه، همواره تحت سایۀ روابط سیاسی با این کشورهای بوده است. بگونۀ مثال در طول بیش از یک‌ونیم دهۀ گذشته هرگاه روابط سیاسی کابل و اسلام‌آباد به تیره‌گی گراییده است، این وضعیت بر روابط اقتصادی دو کشور نیز تاثیرگذار ثابت شده است. این وضعیت باعث می‌شود که صادرات افغانستان به بازارهای جهانی با مشکلات مواجه شود و به همین دلیل در داخل کشور نیز ارزش خود را از دست بدهد.

**رقابت‌های جهانی**؛ در حال حاضر یکی دیگر از چالش‌های موجود در برابر تجارت و ترانزیت و یا در کل روابط اقتصادی افغانستان با کشورهای منطقه، تنش‌ها و جنجال‌های منطقوی و بین‌المللی می‌باشد. بگونه مثال تحریم‌های تازه امریکا بر ایران، روی روابط اقتصادی ایران با دیگر کشورها تاثیر نموده است و افغانستان در این میان در رابطه به ترانزیت خود از راه بندر چابهار نگرانی‌هایی دارد؛ هرچند در حال حاضر به باور کارشناسان اقتصادی، امریکا بخاطر داشتن روابط خوب با هند و افغانستان در رابطه به توسعهٔ بندر چابهار متردد است، چون نمی‌خواهد به اقصاد افغانستان و هند ضربه وارد شود.

## امیدهای موجود برای رونق تجارت و ترانزیت افغانستان

گام‌هایی که از سوی حکومت وحدت ملی برای سهولت در آغاز کاروبار برداشته شده است و در گزارش بانک جهانی از آن یادآوری شده، عبارت اند از کاهش فیس جواز تجارت از ۳۲ هزار افغانی به ۱۰۰ افغانی، سهولت پرداخت مالیات به گونهٔ الکترونیکی، تصویب و توشیح قانون جدید شرکت‌های کوچک و دسترسی آسانتر متشبثین به قرضه. این همه از جمله اقداماتی خوانده شده است که فضای تجارت در افغانستان را بهتر ساخته است.

بر اساس گزارش بانک جهانی، در جریان یک سال گذشته افغانستان در کاهش وقت و قیمت گرفتن جواز تجارتی سهولت‌هایی فراهم کرده و در نتیجه شرایط خوبی برای سرمایه‌گذاری‌های تازه مساعد شده است و افغانستان از لحاظ آغاز تجارت، در ردیف ۴۹ در جهان قرار دارد.

در کل پس از روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی شماری از پروژه‌های زیربنایی تکمیل و یا هم افتتاح گردیده است، افغانستان برای صادرات و واردات خود در تلاش یافتن راه‌های بدیل و متعدد بوده و عواید حکومت نیز نسبت به سال‌های گذشته افزایش یافته است، که یکی از عوامل آن وضع مالیه بر کریدیت مصرفی شبکه‌های مخابراتی بود؛ اما به دلیل افزایش ناامنی و موجودیت بی‌ثباتی سیاسی، وضعیت اقتصادی کشور در برخی عرصه‌ها نسبت به یک‌ونیم دههٔ گذشته روبه خرابی گراییده است. ارزش افغانی به پایین‌ترین حد خود رسیده است (چنانچه در سال ۲۰۱۵م ارزش پول افغانی در مقابل یک دالر۵۷.۷٦ افغانی بود، اما در حال حاضر ارزش پول افغانی در مقابل یک دالر به ۷۵ افغانی رسیده است)، میزان بی‌کاری به اوج خود رسیده، کشور با فرار سرمایه‌ها روبه‌رو است و رشد اقتصادی کشور نیز روبه کاهش است. در کل بیش از ۴۰ درصد مردم افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کنند.

ولی با در نظر داشت گزارش اخیر بانک جهانی امیدها بر این است که افغانستان در سال‌های آینده، در بخش تجارت و ترانزیت دستاوردهای بیشتری خواهد داشت. در این میان حکومت با آوردن اصلاحات لازم در برخی از عرصه‌ها و نیز مبارزه با فساد اداری در بخش سکتور تجارت در بهتر شدن وضعیت اقتصادی کشور برخی گام‌های ابتدایی را برداشته است.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com